**بسم الله الرحمن الرحیم**

**له حدیث شریف سره**

**د خلیفه صلاحیتونه**

**(ژباړه)**

امام بخاري په خپل صحیح کې په دې اړه حدیث روایت کړی دی:

**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَطَعَنَ النَّاسُ فِي إِمَارَتِهِ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "إِنْ تَطْعَنُوا فِي إِمَارَتِهِ فَقَدْ كُنْتُمْ تَطْعَنُونَ فِي إِمَارَةِ أَبِيهِ مِنْ قَبْلُ وَايْمُ اللَّهِ إِنْ كَانَ لَخَلِيقًا لِلْإِمَارَةِ وَإِنْ كَانَ لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ وَإِنَّ هَذَا لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ بَعْدَهُ".**

***ژباړه:*** *له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم لښکر ولېږه او امیر یې پرې اسامه بن زید وټاکه. خلکو د هغه په اړه خبرې وکړې (چې ګواکې هغه د امارت وړ نه دی) رسول الله صلی الله علیه وسلم پاڅېد او ویې ویل: که تاسو د هغه په امارت کې (ناوړه) خبرې کوئ، لکه څنګه مو چې تر ده وړاندې د هغه د پلار د امارت په اړه هم داسې خبرې کولې؛ پر الله قسم چې هغه (زید) د امارت وړ و او زما تر ټولو نږدې دوست و او دا (اسامه) هم له هغه وروسته زما تر ټولو نږدې دوست دی.*

د اسلامي دولت د لومړي مشر په توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم کړنلاره دا وه، چې پخپله به یې د لښکر امیر ګوماره. له دغه حدیث څخه هم معلومېږي، چې په اسلام د کې د دولت مشر (خلیفه) په حقیقت کې په عملي ډول د لښکر رهبر دی، نه یوازې د لښکر اعلی قومندان. ځکه د لښکر لپاره د هغه رهبري سمبولیکه نه ده، بلکې د لښکر اصلي رهبري د خلیفه صلاحیت دی او پر دې سربېره خلیفه نور صلاحیتونه هم لري، چې په لاندې توګه خلاصه کېږي:

1- خلیفه هغه څوک دی چې اړین شرعي احکام د امت د چارو د رعایت لپاره تبني کوي، هغه چې د اجتهاد له لارې د الله له کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه استنباط شوي وي او دا احکام د خلیفه په تبني کېدو سره د هغو قوانینو په ډله کې راځي چې اطاعت یې واجبیږي او مخالفت یې جواز نه لري، دلیل یې هم د اصحابو اجماع ده. کله چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلافت ته ورسېد، د هغه نظر دا و چې د مسلمانانو تر منځ مالونه باید په مساوي توګه ووېشل شي، ځکه په هغو مالونو کې په مساوي توګه د ټولو حق دی؛ مګر د عمر رضی الله عنه نظر داسې نه و، هغه ویل دا سمه نه ده چې هغو کسانو ته چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر وړاندې جنګېدلي، له هغو کسانو سره مساوي مال ورکړل شي، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر څنګ جنګېدلي دي او دا هم سمه

نه ده چې فقير ته دې د شتمن په اندازه مال ورکړل شي. دا چې ابوبکر خليفه و او امر يې وکړ چې د هغه له نظر سره سم دې عمل وشي. يعنې د مسلمانانو تر منځ د مالونو وېش يې په مساوي توګه تبني کړ او نورو مسلمانانو له دغه دستور څخه پيروي وکړه، قاضيان او واليان په همدغه تګلاره مخته لاړل او عمر هم تسليم شو، د ابوبکر په نظر يې عمل وکړ او هغه يې عملي کړ. کله چې بيا عمر رضي الله عنه د مسلمانانو خليفه شو، د ابوبکر د نظر مخالف نظر يې تبني کړ، يعنې امر يې وکړ چې مالونه دې په مساوي توګه نه وېشل کېږي، بلکې د خلکو اړتيا او په اسلام کې د هغوی مخينې ته په پام سره بايد مالونه ووېشل شي. مسلمانانو هم له دغه امر څخه پيروي وکړه، قاضيانو او واليانو عمل پرې وکړ؛ ځکه دا د اصحابو اجماع وه چې امام يعنې خليفه کولی شي چې له شريعت څخه په صحيح اجتهاد سره ټاکلي احکام تبني کړي او مسلمانانو ته امر وکړي چې پر هغو احکامو عمل وکړي. پر مسلمانانو هم واجب دي چې که چېرې دغه امر د دوی له اجتهاد سره په ټکر کې هم وي، بايد اطاعت يې وکړي او د خپل نظر او اجتهاد له عملي کېدو څخه بايد لاس په سر شي.

2- خليفه د کورني او بهرني سياست مسوول دی، د لښکر مشري د هغه پر غاړه ده او د جګړې د اعلان او سولې، اوربند او نورو هوکړه‌ليکونو د تړون واک له هغه سره دی او دليل يې هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم کړنلاره ده. ځکه دا ټول کارونه هغه صلی الله عليه وسلم پخپله ترسره کول او يا يې يو بل کس پرې ګوماره، لکه څنګه يې چې د اداري کارونو لپاره خلک ګومارل، مرستيالان، قومندانان او قاضيان يې ټاکل او وروسته يې محاسبه کول، د پېر او پلور، د مالونو د وېش او له وزګارو خلکو سره د کارموندنې او داسې نورو داخلي چارو په برخه کې يې څارنه کوله. همدارنګه پاچاهانو ته پيغام لېږل، د استازو منل او نورې بهرنۍ چارې او غزاګانې يې پخپله رهبري کولې؛ همدارنګه د سريو لپاره يې قومندانان ټاکل. له دې څخه ښکاري چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د لښکر اصلي مشر و، نه يوازې اعلی قومندان. پر همدې اساس د جګړې اعلان يې پخپله کاوه او د اوربند او هوکړه‌ليکونو تړون يې پخپله کاوه، نو له دې څخه څرګندېږي چې دغه کارونه د خليفه په واک کې دي.

3- خليفه حق لري چې بهرني سفيران ومني او يا يې رد کړي او همدارنګه حق لري چې د مسلمانانو سفيران وټاکي او يا يې لرې کړي؛ دليل يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم کړنه ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم د قريشو له دوو استازو مسيلمه او ابو رافع سره وليدل او همدارنګه هغه صلی الله عليه وسلم د هرقل، خسرو، مقوقس، حارث غساني، د يمن پاچا حارث حميري، نجاشي او نورو پاچاهانو لپاره استازي وټاکل. همدارنګه عثمان بن عفان يې قريشو ته د استازي په توګه ولېږه، نو له دې څخه ښکاري چې خليفه کولی شي سفيران وټاکي او يا هم له نورو سيمو څخه سفيران ومني او يا يې رد کړي.

4- خليفه کولی شي چې مرستيالان او واليان وټاکي او يا يې ګوښه کړي؛ همداراز هغوی ټول مسوول دي چې هغه ته ځواب ووايي. لکه څنګه چې د امت مجلس پر وړاندې ځواب ويونکي دي. دليل يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه کړنلاره ده، چې ابوبکر او عمر يې خپل مرستيالان وټاکل او تر څنګ يې نور واليان هم وګومارل. هغوی

يې محاسبه کول او يو شمېر يې لرې او ګوښه کول، لکه علاءبن حضرمي يې چې له بحرين څخه ګوښه کړ او يا ابن طبيه يې چې د ډالیو د اخیستو له امله محاسبه کړ، ځکه نوموړی يې د صدقې د راټولو په موخه لېږلی و.

5- خليفه کولی شي چې قاضي القضات او نور قاضيان وټاکي او يا يې لرې کړي، پرته د مظالمو له قاضي څخه، ځکه چې خليفه هغه ټاکلی شي، خو لرې کول يې بيا ځينې محدوديتونه لري. خليفه کولی شي چې د ادارو مديران، د لښکر مشران، د ارکان رئيسان او د ولايتونو اميران وټاکي او يا يې لرې کړي او هغوی ټول مسوول دي چې يوازې هغه ته ځواب ووايي، نه د امت مجلس ته. دليل يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه کړنلاره ده چې قاضي يې وګوماره، علي بن ابي طالب، ابوموسی اشعري، د لښکرو او سريو قومندانان لکه اسامه بن زيد او حمزه بن عبدالمطلب يې وټاکل.

6- خليفه کولی شي چې هغه شرعي احکام تبني کړي، چې د دولت بودجه پرې تنظيمېږي او کولی شي چې د بودجې د فصلونو او هغو پيسو په اړه تصميم ونيسي، چې د دواړو اړخونو لپاره لازم وي، هغه که په عوايدو او يا لګښتونو پورې اړه ولري. دليل يې د صحابه‌وو اجماع ده. ابوبکر صديق رضی الله عنه همداسې وکړل او عمر رضی الله عنه هم په دې توګه عمل وکړ، خو هېڅ صحابي يې مخالفت ونه کړ، که چېرې دا عملونه منکر وای، حتمي يې مخه نيول کېده؛ نو په حقيقت کې دې ته اجماع وايي.

د حاکم په توګه د رسول الله صلی الله عليه وسلم له کړنلارې او تر هغه وروسته د راشده خلفاوو پر کړنو له اجماع وروسته معلومېږي، چې خليفه هغه څوک دی چې د حکومت ټول واک يوازې له ده سره وي. نوموړی د مسلمانانو ولي‌الامر او د هغوی د مصلحتونو ساتونکی دی. له هغه سره دومره واک او اختيار شته دی، چې خپل مسووليت په ښه او بشپړ ډول ترسره کړي.

دا د الله سبحانه وتعالی حکم دی او هېڅوک نشي کولی چې اعتراض يا نيوکه پرې وکړي. ايا له الله سبحانه وتعالی پرته بل څوک شته، چې د امت پر مصلحت ښه وپوهېږي؟ پر همدې اساس د خليفه د پراخ واک ګټې يوازې هغه مهال څرګندېږي، چې انشاءالله خلافت يو ځل ژر را وګرځي. خليفه د امت چارې سمبالوي. هغه د ټولو لويو او کوچنيو مسايلو مسول دی. امت هغه پوښتي او محاسبه کوي يې.

اې ربه موږ ته ژر هغه خليفه را په برخه کړه، چې زموږ چارې سمبال کړي، زموږ نصيحت واوري او پوښتنې او غوښتنې مو ومني. ترڅو په دې توګه نور د فساد او بې‌عدالتۍ لپاره ځای پيدا نشي. اې ربه پر هغه امت باندې امنيت، ارامي او امن حاکم کړه، چې له ډېر وخت راهيسې تر ظلم، وحشت او بې‌عدالتۍ لاندې دی او دا هيله لري چې د مهربانه او ښښونکي الله په فضل به يوه ورځ له دغه حالت څخه وژغورل شي. آمين

**ژباړن: صهيب منصور**